# په سمنګان کې ۹ تنه پر روغتیايي کارکوونکې د جنسي تیري په تور نیول شوي

د سمنګان ولایت پولیس وايي پر روغتیايي کارکوونکې د ډله ییز جنسي تیري په تور یې
نهه کسان نیولي دي. د رپوټونو له مخې پر دغې روغتیايي کارکوونکې تیره اوونۍ د
سمنګان ولایت د رو دواب ولسوالۍ په روغتیايي مرکز کې یوې ډلې کسانو جنسي تیری
کړی دی. د رپوټونو له مخې دغې روغتیايي کارکوونکې چې جنسي تیری پرې شوی،
تیری کوونکي پېژندلي او پولیسو ته یې ښودلي دي. دغه کسان همدا شان پر دې ملامت
شوي چې پر دغه روغتیايي مرکز د برید پر وخت یې وسله وال وو او یو بل روغتیايي
کارکوونکی یې سخت وهلی او ټپي کړی دی. د سمنګان د پولیسو ویاند هاشم بیان ویلي
چې له نیول شویو کسانو څخه یې څلور تنه له ۱۸ کلونو ټیټ عمر لري او نور یې د ۲۵
او ۳۰ کالو ترمنځ دي. ښاغلي بیان وویل ((دغه کسان د دوو روغتیايي کارکوونکو د
ادعا له مخې نیول شوي دي. دوسیه مو څارنوالۍ ته استولې او قضیه تر پلټنې لاندې
ده)). د سمنګان د والي ویاند صدیق عزیزي هم ویلي چې ټوله هڅه یې دا ده چې دغه
پېښه سمه وڅېړل شي او جزئیات یې څرګند شي. مقامات وايي چې تر اوسه یې پر دغه
روغتیايي مرکز د برید د انګېزې په هکله اطلاعات ندي ترلاسه کړي

...نه

...که

Ketabton.com

# ...کار د دوام پر وړاندې د سیاسي مخالفانو درېځ کودتا ده

...ام پر وړاندې د حکومت د سیاسي مخالفانو درېځ د اساسي قانون خلاف دی او کودتا بلل کېدای شي.

...ماکلي
...مشر د
...رګولي
...ی دا د

د حکومت دې سیاسي مخالفې ډلې د
دوشنبې په ورځ په خبري غونډه کې وویل
چې ولسمشر اشرف غني باید پر سرپرست
حکومت ته واک وسپاري. خو ارګ وايي،

درېځ د اساسي قانون خلاف دی او کودتا
بلل کېدای شي. د ولسمشر د ویاند مرستیال
صمیم عارف د سې شنبې په ورځ ...
راډیو ته وویل، په دې اړه د اساسي قانون

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**